محمد انور اځر

۲۰۲۴/۰۹/۱۳

# د یهودانو عادلانه جګړې

(پنځه پنځوسمه برخه)

## د اسراییلو د سکوت پېر (دوره) پر مهال د یهودو مذهبي ډلې ټپلې

### د یحیا نبي ظهور

د اسراییلو د سکوت دوره د ملاکي نبي څخه وروسته پیل کیږي، ملاکي د اسراییلو له وروستنیو او کوچنیو انبیاوو څخه ؤ، د ملاکي پر کتاب‌ګوتي د تورات (لرغونی تړون) د کتابونو او لیکنو لړی پای ته رسیږي، له ملاکي وروسته تر یحیا نبي پورې په اسراییلو کې بل نبي نه دی راغلی چې دغې مودې ته د سکوت پېر وایي چې په دې منځ کې شاوخوا څلور سوه کاله تېریږي، په دې څلورو پېړیو کې په اسراییلو کې ډېر تاریخي، سیاسي او مذهبي بدلونونه راغلي دي، لکه په تېرو پاڼو کې چې مالومات وړاندې شوي، په دې موده کې له پارسیانو څخه مقدونیانو د فلسطین خاوره ونیوله خو اسراییلي مکابیانو د مقدوني سلوکي لړۍ د یو پاچا پر وړاندې پاڅون وکړ او آزادي یې ترلاسه کړه چې له یوې پېړۍ وروسته د اسراییلو د خپل منځني مخالفتونو له امله رومیان د فلسطین ځمکې ته راغلل او فلسطین یې تر خپلې ولکې لاندې راوست.

د اسراییلو د سکوت د پېر پر مهال په یهودیت کې د بهرنیانو د اغیز له امله ډېرې مذهبي ډلې ټپلې لکه: صدوقیان، فرسیان، اسینیان، قراییم، ربابیم، کاتبان او نورې ډلې رامنځ ته شوې چې په ګروهو او کړنو کې یې خورا لوی، لوی توپیرونه لیدل کیږي. د یهودو په دغو ډلو کې فرسیان، صدوقیان، کاتبان او اسینیان مشهورې ډلې وې.

فرسیانو پر اسراییلو ډېر اغېز درلود او لارویان یې له صدوقیان زیات وو «فرسیان د صدوقیانو او اسینیانو سره په دښمني کې ښکېل وو او هغوی یې کافران او ملحدین بلل، فرسیان د صدوقیانو د ګروهو پر خلاف، روح، قیامت، پربنتي او د یهوه خدای د جسم پر شتون ګروهمن وو او د راتلونکي ژغورونکي، د یهوه خدای پر زوی مسیح یې ایمان درلود.»[1] (چې دا ډول ګروهې یې د زردښت له ګروهو اخیستي وې.)

د صدوقیانو ډلې تر ډېره د یهودو له اشرافو او کاهنانو استازولي کوله او یوازې یې پر لیکل شوي تورات (پنځو کتابونو) او د موسی پر نبوت ایمان درلود، نور انبیا یې یوازې مصلحان بلل. د اسراییلو په لومړیو پنځو کتابونو کې

---

[1]: هاشم رضا:ادیان بزرگ جهان.۴۴۷مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د روح، د بیا ژوندي کیدو (معاد)، قیامت او بلې نړۍ په اړه یادونې نه دي شوي نو صدوقیان په دې ګروهمن وو چې روح پایښت نه لري، دوزخ او جنت نه شته، د خېر او شر بدله په همدې نړۍ کې ده، همدارنګه هغه څه چې له عقل سره یې سمون نه درلود، نه یې منل او د جبر او اختیار نظریې مخالف وو، انسان یې د آزادي ارادې څښتن باله چې د دغو موضوعاتو د رامنځ ته کیدلو له امله د یهوه خدای د شتون په هکله شک رامنځ ته شو. (ادیان بزرگ جهان. ۴۴۶مخ)

هغه مهال د یهودو په مذهبي ډلو کې د اسینیانو زاهده ډله تر ټولو افراطي ډله بلل شوې ده چې تر ډېره په ګوښه سیمو کې اوسیدل، د نوموړې ډلې کړنلاره داسې وه چې باید د نړۍ له فساد څخه ځانونه وساتو او له فاسدو خلکو ګوښه استوګنه غوره کړو، زهد وکړو او نړۍ ته شا کړو، په عبادت، لمونځ او روژه باندې ورځ تېره کړو، د مسیحا راتلو ته په انتظار کېنو، آداب او شرعي کړنې، لکه غسل او د سبت (شنبې) ورځې ته درناوی وکړو... اسینیانو له خپلو دښمنانو سره جګړې او لانجې ناروا بللې، په صبر، تسلیمۍ او وعظ کولو باندې یې ټینګار کاوه... دوی د توبې او له ګناه څخه د پاکولو په موخه د تعمید غسل ترسره کاوه او په کفاره یې هم باور درلود، خپل مشران یې د ټولټاکنو له لارې ټاکل، خپلې شتمنۍ یې یو ځای راټولولې او په ګډه یې لګولې. «ډیریو اسینیانو له دې کبله چې ژوند یې منظم او خواړه یې ساده وو، له سلو کلونو ډېر عمر درلود، سپین کتان کالي یې اغوستل، په ځمکه کې د خپلو (بولو) د ښخولو لپاره یې یوه کړه کوچنۍ چاړۍ له ځان سره درلوده چې بیا به یې د برهمن په څېر ځانونه مینځل، [عجیبه خو لا دا] چې د سبت (شنبې) په ورځ به یې د بولو او میتازو کول کفر ګڼل کیده... د راتلونکي مسیح په تمه وو چې د ځمکې پر مخ به مساوات رامنځ ته کړي، د مسیح په هېواد کې به هغه وګړي ځای ولري چې په دې نړۍ کې پاک لمنې وي، دوی سوله غوښتونکي خلک وو، د جګړهییزو وسلو له جوړولو یې ډډه کوله خو کله چې [په کال ۶۸ز کې د روم [امپراتور] تیتوس ځواکونو په اورشلیم او معبد باندې برید وکړ، اسینیان له نورو یهودیانو سره یو ځای شول او نړدې ټول په هغه جګړه کې ووژل شول.»[2]

لیکوال جان بایر ناس وایي:«بایده دي چې د اسینیانو ډله د راتلونکو مسیحیانو لاربنوده ډله وبلل شي چې مسیحیان یوه پیړۍ وروسته راغلل، اسینیانو ځانونه د (نور زامن) بلل او د نور د پاچا د راتلو په تمه وو او پاتې نور وګړي یې د (تیارې زامن) ګڼل چې د تیارې پرښته (اهریمن) حکومت پرې کوي، ښایي دا ډول ګروهه یې د زردښتیانو له ګروهو اخیستې وي.» (تاریخ جامع ادیان:فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۵۵۳مخ)

د اسراییلو د سکوت د پېر په پای کې، یحیا د زکریا زوی په یهودو کې ښکاره شو، هغه په تعمید ورکوونکي باندې مشهور ؤ[3]، یحیا ته د مور په نس کې سپیڅلی روح ورکړای شوی ؤ، زکریا چې د یحیا پلار ؤ د پرښتې لخوا زیری پرې کیږي چې «... ستا ښځه الیشبع[4] به ستا لپاره زوی وزیږوي او هغه به یحیا ونومېږ... هغه به د مور په نس کې پر روح‌القدوس ډک وي، ډېر بنياسراییل به د خپل خدای یهوه لارې ته راواړوي، هغه به د یهوه خدای پر وړاندې د الیاس په روح او ځواک سره درومي... .» (د لوقا انجیل:۱/۱۳تر۱۷پورې)

---

[2]: ویل دورانټ: تاریخ تمدن: فارسي ژباړه د څو تنو فارسي ژباړه، ۱۵۸۹-۱۵۹۰مخونه
[3]: د توبې او پاکولو غسل ورکوونکی.
[4]: په درې ژباړه کې د زکریا ښځه (الیصابات) بلل شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سره له دې چې د یحیا او عیسی د راتلو په هکله د تورات په اړوند کتابونو او لیکنو کې وړاندوینې شوې دي خو یهودان یې د پیغمبرانو او نبیانو په توګه نه مني، یهودان وایي چې له ملاکي نبي وروسته بل نبي شته تر دی چې اسراییل د یحیا او عیسی په اړه سپکې‌سپورې هم وایي او هغوی کافران او مرتدان بولي (چې وروسته به پرې وغږیږو).

د یحیا نبي د راتلو په اړه شاوخوا څلور پېړۍ پخوا د یهودو ورستني نبي ملاکي د یهوه خدای له لوري وړاندونیه کړې وه چې وړاندې له هغې چې قیامت راورسیږي، د الیاس نبي په څېر څواکمن نبي [یحیا] [5] درلېږم، ملاکي دوه ځلې په خپلو لیکنو کې ویلي چې «لوی او څواکمن خدای یهوه وایي: **خپل استازی دراستوم**، تر څو زما د راتګ لپاره لاره چمتو کړي. بیا به هغه خدای چې تاسو ورته په تمه وئ، په ناڅاپي توګه خپل کور ته راستون شي. **هغه رسول چې تاسو یې د لیدو هیله‌مند یاست رابه شي او زما ژمنه به تاسو ته وواي.»** (ملاکي:۱/۳)

**«د حساب کتاب او وېرووونکي ورځې له رارسیدلو وړاندې، زه د ایلیا [الیاس] نبي غوندې رسول درلېږم**، هغه به د پلرونو او زامنو زړونه بیا سره نږدې کړي او دا به د دې سبب شي چې زه به ستاسو هېواد وران نه کړم.» (ملاکي:۴/۵-۶)

له پورته وړاندوینو څلور پېړۍ وروسته، یحیا نبي په اسراییلو کې نبوت پیل کړ، د عیسویانو په انجیلونو کې د یحیا له ګروهي او کړنو شکاري چې هغه به د یهودو د اسینیانو د زاهدې ډلې څخه وي، هغه د اسینیانو په څېر ساده خواړه خوړل او په دښته کې استوګن ؤ، «کالي یې د اوښ له وړیو جوړ شوي وو، د څرمنې ملاوستنی (کمربند) یې پر ملا تړلی ؤ، ملخي او ځنګلي ګبینه یې خوراک ؤ.[6]» (متی انجیل:۳/۴-۵مخونه)

یحیا نبي ډېر جدي کس ؤ، هغه پر (اسراییلي کاهنانو او رومي واکمنان) سختې نیوکې کولې، هغه مهال چې یحیا د اردن په سیند کې خلکو ته د توبې غسل ورکاوه ویې لیدل چې ډېر فریسیان او صدوقیان د تعمید د غسل لپاره وردرومي نو هغوی یې افعي منګوران (ماران) وبلل، ویې ویل:«کله چې یحیا ولیدل چې د یهودو قوم ډېر ځان‌ښودونکي روحانیون او مشران هغه ته د تعمید د غسل کولو[7] په موخه ورځي، نو هغوی ته یې وویل: ای د افعي [مارانو] زامنو! چا درته ویلي چې تاسې کولی شئ د خدای له راتلونکي غضب څخه وتښتئ؟ **مخکې له هغې چې تاسې ته د تعمید غسل درکړم، باید په ښو چارو ثابته کړئ چې له خپلو ګناهونو مو توبه کړې ده.** په دې فکر ځانونه مه غولوئ چې موږ یهودان یو او د ابراهیم له نسله یو، دا ډول خیالونه خوشې او بې‌مانا خیالونه دي، خدای کولی شي له دغو تیږو د ابراهیم لپاره نسلونه جوړ کړي.» (متی انجیل:۳/۷تر۹پورې)

یحیا نبي لږ وړاندې د عیسی له راتلو څخه په اسراییلو کې نبوت کاوه. یحیا، عیسی د مسیح په توګه خلکو ته وروپېژاند، یحیا نبي اسراییلو ته ګوت‌څنډنه کوي او د عیسی د راتلو او د هغه لخوا د تعمید ورکولو په هکله وایي:«د ونو جرړو ته تبر نیول شوی دی، هره ونه چې میوه نه نیسي هغه به پرې کړای شي او اور ته به اچول کیږي، **زه**

---

[5]: د (ملاکي کتاب‌ګوتي تفسیر) او (مستر هاکس: قاموس کتاب مقدس. ۸۳۱مخ)
[6]: ومو لوستل چې د اسینیانو مذهبي ډلې ځانونه **د نور زامن بلل** او د نور د پاچا په تمه وو، د یوحنا په انجیل کې وایي چې یحیا نور نه ؤ خو د نور (عیسی) د راتلو په هکله شهادت ورکوي:«یحیا نومی یو سړی د یهوه خدای له لوري راغی، هغه د نور د شهادت لپاره راغی چې ټول خلک د هغه په وسیله ایمان راوړي، هغه په خپله نور نه وو خو د نور د شهادت لپاره راغی او رښتینی نور چې هر یو بني آدم روښانه کوي هغه نړۍ ته راتلونکی وو.» یوحنا:۱/۶تر۹پورې.
[7]: د تعمید غسل: د عیسویانو په ګروهه په اوبو باندې لمبل دي چې پر بنسټ یې یو عیسوی له ګناهونو پاکیږي... .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**تاسو ته د توبې لپاره په اوبو غسل درکوم خو څوک چې له ما وروسته راځي، هغه له ما څخه ډېر ځواکمن دی، زه د هغه د څپلیو پورته کولو وړ هم نه یم، هغه به پر روح‌القدوس او اور باندې غسل درکړي.»** (متی:۳/۱۰-۱۱)

کله چې عیسی راغی نو یحیا عیسی ته د تعمید غسل ورکړ، یحیا عیسی ته وویل چې ته د دې وړ یې چې ما ته د تعمید غسل راکړې.[8]

د عیسویانو په ګروهه، هغه مهال چې عیسی د تعمید غسل وکړ، سپیڅلی روح پرې کېناست د دغه روح په اړه یحیا یادونه کوي وایی چې «ما روح‌القدوس ولید چې له آسمانه د کوترې په څېر راکوزیده چې په هغه [عیسی] نازل شو، ما هغه نه پېژاند خو هغه چا چې زه یې په اوبو د تعمید ورکولو لپاره رالېږلي یم، ما ته وویل: کله چې ته روح‌القدوس ووینې چې په چا راکوزیږي، نو ته به پوه شې چې دا هغه سړی دی چې په روح‌القدوس به د توبې غسل ورکوي. ما دا په خپله ولیدل او زه شهادت ورکوم چې دا د خدای زوی دی[؟]» (یوحنا:۳۲/۱تر۳۴پورې)

نېټه:۱۴۰۳/۶/۲۲ل. ل

**نور بیا**

---

[8] :متی:۱۴/۳تر۱۶پورې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ